# د نړیوالو ادبیاتو په نږدې‌کولو کې د پرتلییز ادب ونډه(د لیلی او مجنون کیسه د بېلګې په ډول)

**پوهنوال دکتور یارزمان منګل**

دعربی ژبی څانګه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

ایمیل: yarmangal@gmail.com

**لنډیز**

دغه څېړنه د نړیوالو ادبیاتو یو بل ته پر نژدې کولو کې د پرتلیز ادب رول څرګندوي؛ پرتلیز ادب له خپل پایله د ادب نړیوالتوب منلی، د اسلام له راتګ څخه وروسته د عربي ژبې ادب ځینو فنونو دنورو ژبو پر ادبیاتو اغېزه وکړه، او له نورو ژبو یې ځینې موضوع ګانې هم راو اخیستي، د نړیوالو ادبیاتو ترمنځ د راکړې ورکړې اصل ثابت دی، هیڅ ژبه له دغه اصل څخه مستغني نشو ګڼلای. په اسلامي ادبیاتو کې‌یې ښه بېلګه د لیلی اومجنون کیسه ده، چې د شرقي ژبو په ډېرو ادبیاتو کې لکه عربي، دري، اردو، ترکي او پښتو لیکل شوې ده. دغه څېړنه د(عربي او پښتو) ادبیاتو ترمنځ د لیلی او مجنون پرکیسې رڼا اچوي، په دواړو ادبیاتو کې د کیسې د رامنځ ته کېدو پر پیدایښت او د دواړو ترمنځ د ورته والي او توپیرونو او همدارنګه د اغېزمنېدو پر کچه غږېږي.

**کلیدی‌اصطلاحات:** پرتلیز ادب؛ لیلی او مجنون؛ صوفي مینه؛ سپېڅلې مینه

# The Role of Comparative Literature in Bringing World Literature Together (د لیلی او مجنون کیسه د بېلګې په ډول)

**Associate Prof. Yarzaman Mangal**

Department of Arabic, Faculty of Foreign Language and Literature, Kabul University, Kabul, Afghanistan

Email: yarmangal@gmail.com

**Abstract**

By highlighting and expressing the importance of comparative literature in monotheism, the present article depicts global literature and its closeness to each other in all parts of the world. First of all, comparative literature acknowledges the universality of global literature from the earliest days, and in this regard, the influence of Arabic literature on some other literature is also sound proof of this claim. This article deals with the issue of the origin and interaction between Arabic and Pashto literature in the storytelling of the literature literates comprehensively. The story of Layla and Majnun has been selected as a literary example in the mentioned literature. Findings reveal that the versions of Layla and Majnun stories have many similarities in terms of the story and also in terms of the protagonist of the story in Arabic (Qais is Majnun's counterpart in Arabic) and Pashto literature, but they also have differences.

**Keywords**: Comparative Literature; Layla  Majnun; pure love; Sufi love

**سریزه**

دا څېړنه په پرتلیزو څېړنو کي یو منل شوی حقیقت را څرګندوي، او هغه د نړېوالو ادبیاتو یو له بل سره مرسته، یو بل ته ګټه رسول او له یو بل نه تأثر او تأثیر قبلول دی، چې په ادبي ژانرونو او هنري ټوټو خپل ادبیات لا بډایه کړي.

کره کتونکو او شنونکو د ادب د نړیوالتوب لاملونه راغونډ کړي، د بېلګې په ډول پرته له حصر ځینې یې په لاندې ډول دي:

1. انساني موقف‌یې بنسټ دی: د ښه عمل لپاره بنسټي معیار د انساني موقف له څو اړخونو روښانه کول دي، ټولنیز، فکري او نظریاتي موقف، ښه بېلګه یې رسالة الغفران د معري، او د شکسپیر لیکنې دي.
2. سیمه‌ییز رنګ او ځانګړی بوی درلودل: ځینې داسې تلپاتې شاهکارونه شته چې د تلپاتې کېدو لامل‌یې د انساني موقف بډاینې ته نه ورګرځي، بلکې لامل‌یې هغه سیمه‌ییز، شخصي، قومي او اقلیمي ځانګړی بوی دی، چې دغه انسان ترې برخمن دی، ښه بېلګه‌یې د تولوستوي ادبي کارونه دي.
3. هنري نوښت مهم شرط دی: هر هنري کار چې ځان د نړیوالتوب یا تلپاتې کېدو لپاره ټاکي هنري پیاوړتیا یې حتمي شرط دی، ښه بېلګه یې په اسلامي ادبیاتو کي د لیلی او مجنون کیسه کېدای شي.

دا څېړنه تر ډېره بریده نوې ده، تر کومه ځایه چې زه پوهېږم په دې اړه تر اوسه لیکل نه دي شوي ځینو عربو لیکوالو د عربي او فارسي ژبو ترمنځ پرتلیزي څېړنې کړې، د لیلی او مجنون کیسې ته‌یې له لرې یا نژدې اشاره کړې او د دوی ترمنځ‌یې د ورته والي او بېلوالي نقطې بیان کړې خو داسې مستقل تألیف یا اثر مې نه دی موندلی چې په عربي او پښتو ادبیاتو کې د لیلی او مجنون پر حکایت او د دواړو ترمنځ د اغېزې پر کچه وغږېږي.

دغه څېړنه له لنډیز، سریزې، په عربي ادب کې لیلی او مجنون، په پښتو ادب کې لیلی اومجنون پایله او د سرچینو نوملړ څخه تشکیل شوې ده.

په دغه څېړنه کي مې د پرتلیزو څېړنو تګلار ټاکلې ده، په دواړو ادبیاتو کي مې د لیلی او مجنون پر شخصیتونو او د هغوی په ځانګړتیاو او همدارنګه په عربي ادب کې د تاریخي او افسانوي روایتونو شننه اوڅېړنه کړې ده. عربي افسانوي اړخ‌یې څه ډول پښتو ادب ته په صوفي بڼه د انتقال لاره وموندله. نفسیاتي اړخونه مې اول د عربي شعرونو پر اساس څېړلي، بیا مې د پښتو شعرونو پر بنسټ شننه کړې چې په پښتو ادب کې د مجنون انساني او روحي اړخ څرنګه بډایه شوی دی.

**په عربي ادب کې د ليلى او مجنون کيسه**

د ليلى او مجنون د کيسې څېړونکيو په تاريخي لحاظ ستره موخه د مجنون د شتون يا نه شتون څېړنه وه. دوى تل د دغې مسألې له پولو سره ګرځې، دې ته نژدې نه دي چې ترې واوړي. د راويانو له پولو سره دربېږي چې د ځينو نقل شويو روايتونو پر بنسټ بهيې يا په شتون کې شک کوي او يا بهيې د نورو ډېرو ادبي رواياتو پر بنسټ شتون مني، خو دوى د دغو رواياتو د سموالي او ناسموالي لپاره بشپړ اوکره دلايل نه لري، غوره به وي چې ووايو: د قيس کيسې د نورو ژبو په ادبياتو کې ځانګړې ارزښت لري، نو پکار ده چې د قيس شخصيت په هغه ډول بيان کړم، څنګه چې په اشعارو کې راغلى او بيا به يې افسانوي شخصيت بيان کړم په کوم ډول چې د ده له کيسو معلومېږي، له دې سره به دا هم واضح کړم چې تاريخي شخصيتيې څه ډول د ادب او افسانو ډګر ته راننوت. او په عين وخت کې دغه انتقال سبب شو د قيس شخصيت ته په صوفيانه رنګ کې په ځانګړي ډول يې پښتو ادب ته او په عام ډول نورو اسلامي ادبياتو ته لاره ومونده، دلته به يادو ته په تفصيل اشاره وشي.

دعربي ژبې کرهکتونکى اصمعي وايي: د بني عامر بن صعصعه قبيلې له يوه کوچي څخه مې د مجنون عامري په اړه پوښتنه وکړه، نو ده راته وويل: د کوم يوه پهيې اړه پوښتنه را څخه کوې؟ په موږ کې يوه ډله خلک وو چې د جنون (ليونتوب) تور پرې لګېدلى و، هر يوه بهيې د ليلى د ښايست ستاينه کوله. ما ورته وويل: د دوى د ځينو شعرونه را ته ووايه، نو د مجنون مزاحم بن حارث دا شعر يې راته تېر کړ: (2)

| | |
|---|---|
| ألا أيها القلب الذي لج هائماً | بليــلى وليــداً لم تقطع تمــائمه |
| أفق قد أفاق العاشقون وقد أنى | ذلك اليوم أن تلقى صديقاً تلائمه |
| أجدك لا تنسيك ليــلى ملمة | تلم ولا عهد يطــول تقاد مهظ |

ژباړه: خبر شه اى زړه چې ليلى ته ترى يې، له داسي ماشومتوبه چې تعويذونهيې لا نه وو لرې شوي، په هوش شه، ټول مين په هوش راغلي، او هغه ورځ را نژدې شوې چې له خپل مناسب دوست سره يو ځاى شې، زه دې ګورم، نه هېڅ پېښه ليلى درڅخه هېروي او نه هم هېڅ زمانه چې ډېره پخوانۍ ده.

ما ورته وويل: د بل يوه شعر يې هم را ته ووايه، نو د مجنون معاذ بن کليب دا شعر يې را ته تېر کړ: (3)

| | |
|---|---|
| ألا طــالما لعبت ليــلى وقادني | إلى اللهو قلب في الحسان تبوع |
| وطال امتراء الشوق عيني كلما | نزفت دمـــوعا تستجد دمــوع |
| فقد طال إمساكي عن الكبد التي | بها من هوى ليلى الغداة صدوع |

(2) الأصفهاني (1967 م) الأغاني، طبع دارالكتب المصرية القاهرة ج2 ص 6-8.
(3) الأصفهاني (1967 م) الأغاني ج2 ص 6-8.

ژباړه: کله به چې ليلى لوبې کولې او زه به يې ساتېرى ته په خوښ زړه بولم، د شوق شک به په اوربدېدو شو، زما سترګو به چې کله اوښکې تويولې نورو اوښکو به نوې غوښتنه کوله، نو اورد شو زما بندېدل له زړګى نه، چې د ليلا د ليدو مينه يې لرله.

تر ټولو ډېر مشهور نوم چې زموږ د څېړنې موضوع ده هغه د قيس په مشهوره شوى، هغه قيس بن ملوح بن مزاحم بن عدس بن ربيعه بن جعده بن کعب بن ربيعه. هغه ليلى چې دى پرې عاشق و هغه ليلا بنت مهدي بن سعد بن کعب بن ربيعه وه، دوى دواړه په پوره شتمنه او د ډېر خير والا کورنۍ کې لويان شوي، داسې ښکاري چې د ده قبيله د مقام په لحاظ د نورو قبيلو لوړه وه، د مجنون پلار د کلي مشر وو ده نور وروڼه هم لرل خو پلار يې دى پر نورو غوره باله، له ځينو رواياتو او اشعارو ښکاري چې د مجنون او ليلى د قبيلې ترمنځ زړه دښمني وه، دى وايي:[(4)]

| | |
|---|---|
| يقولون ليــــلى أهــل بيت عداوة | بنفسي ليـــــلى من عـدوٍ وماليا |
| ولو كان في ليلى شذاً من خصومة | للويت أعناق المطي الملاويا |

ژباړه: خلک وايي: ليلى له دوښمنې کورنۍ څخه ده، د ليلى په شان تر دوښمن دې زما ځان او مال قربان وي. که په ليلى که د دوښمنۍ بوى هم واى ما به د خپلو سورليو غاړې بل لوري ته تاو کړې واى. قيس د خپل قوم تر ټولو ځوانانو ښايسته او ځيرک و، د عربو د اشعارو ډېر راوي او په دوى ټولوکې ښه سخي و. ويل کېږي؛ د ده زړه له هغه وخته پر ليلى کښېناست چې دواړه واړه وو خپله خپله رمه يې څروله، چې کله دوى لوى شول، ليلا په حجاب کې ( پټه) شوه نو په دې پسې يې تنده نوره زياته شوه، وايي [(5)]

| | |
|---|---|
| تعلّــقت ليــلى وهي ذات ذؤابــة | ولم يبد للأتراب من ثديها حجم |
| صغيرين نرعى البهم يا ليت أننا | إلى الآن لم نكبر ولم تكـبر البهم |

ژباړه: پر ليلى مې هغه وخت زړه بايلود چې وړوکې پېکۍ يې درلود او همزولو ته يې د تي حجم نه و څرګند، په داسې حال کې چې موږ داوړه واړه وو څاروي مو څرول، کاشکې تر اوسه نه موږ او نه هغه څاروي لوى شوي واى.

د مجنون د ژوند سترې پېښې د ليلى او مجنون ترمنځ د مينې ټوکېدنه، د هغې ستاينه، د واده څخه بې برخې کېدل چې کله يې وغوښتله، پلار ته يې سپارښتنه چې ليلا مجنون ته ورکړي، خو د ليلا واده د بل چا سره کېدل.

---

(4) الأغاني، الأصفهاني ج 2 ص 3.
(5) أبوعلي، اسـماعيل بن القاسـم القالي البغدادي(1926 م) شـذور الأمالي والنوادر، طبع دارالكتب المصرـية، القاهرة ج1 ص216.

د (الأغاني) لیکوال په خپلو روایاتو کې یو دا روایت کوي چې مجنون یوه ورځ پر خپلې اصیلې اوښې سپور راغی او د پاچاهانو په څېر جامې یې اغوستې وې، د خپل قوم یوې ښځې ته نژدې تېر شو چې کرېمه نومیده ، د لیلی په ګډون نورې ښځې هم وې چې یو بل سره غږېدلې. هغوی ته د مجنون کمال او جمال خوند ورکړ، نو بلنه یې ورکړه چې ښکته شي او خبرې ورسره وکړي. دی را ښکته شو خبرې یې ورسره کولې، خپل خادم ته یې امر کړ تر څو دوی ته خپله اوښه حلاله کړي، په همدې وخت کې یو ځوان را وخوت چې د کوچې عربانو یو ځادر یې پر ځان اچولی و، دی منازل نومیده، چې کله ښځو هغه ولید مخ یې ورواړوه او مجنون‌یې پرېښود، نو دی په غوسه شو ، د دوی څخه ولاړ او دا بیتونه یې وویل[6]

أأعْقرُ مِنْ جرًّا کَرِیمَـــةَ نَاقَتـــِي — وَ وصـــلي مَفْــرُوشٌ لِوَصْـــلِ مُـنَازِلِ

إذَا جَاَء قَعْقَعْنَ الحُلِيّ ولَمْ أكُنْ — إذ جئت أرضى صَوْتَ تِلَكَ الخَلاخِلِ

متـــى ما انتضلنا بالسـهام نضلته — وإن نرم رشقًا عـــندهن فهـــو ناضل

ژباړه: آیا زه به خپله اصیله اوښه ستاسو په خاطر حلالومه او زما اړیکي به د منازل د اړیکو په وجه تر پښو لاندې وي؟ چې کله دی راغی نو دوی خپل د سینګار کالي وشړنګول او چې کله زه راغلم د دغو پایزیبونو په غږ نه خوښېدم. چې کله په غشو ویشتل سره وکړو زه ماتې ورکوم او چې د ښځو په حضور کې ویشتل وکړو بیا دی ویشتونکی دی. چې کله یې سبا کړ خپل جوړه کالي یې واغوستل، پر بلې اوښې سپور شو او روان شو، دواړه په دې پوی شول چې مینې یې په زړونو کې ځای نیولی دی.

پر قیس هنرې حس غلبه کړې وه، نو خپله مینه یې ځرګندوله، د لیلی ښایست یې ستایه، او د ښایست یادونه ورته خواږه ښکارېدل، او د خپلې معشوقې د ښایست د ستاینې شعرونه یې د قوم ترمنځ خپاره شول او دا هغه څه وو چې عرب پرې غوسه کېږي، عیب یې ګڼي، او څوک چې د کومې پېغلې د ښایست ستاینه وکړې، له هغه سره یې واده کول عیب ګڼي، او همدا یې د دردونو او غمونو لامل شو چې په پای کې ورسره مخ شو. نو دا طبیعي خبره وه چې د لیلا پلار د تقلیدونو د غوښتنې سره د تلو په خاطر او د شرم له وېرې د واده غوښتنه رد کړي، خو قیس دغه بې برخیتوب و نه مانه نو دی به د کلي ته کله نا راتلو او د هغې د ملاقات لپاره به یې له فُرصتونو ګټه اخیستله.[7]

---

(6) الأنطاقي، داود(1302هـ) تزيين الأسواق في أخبار العشاق، طبع القاهرة ص31.
(7) همغه سرچینه ص ٥٧.

د لیلی د ملاقات لپاره د مجنون له هیلو څخه دا وه چې د لیلی په کلي کې یوه کونډه اوسېده، نو مجنون به له هغې څخه د لیلا احوال اخیست. چې کله د لیلی کورنۍ ته دغه خبر ورسېد، نو ښځه یې منع کړه او ګواښ یې ورته وکړ چې سمه شي، ښځې مجنون ته ټوله کیسه وکړه، نو ویې ویل: (8)

أجارتنا إنّــا غريبــــان هــا هــنا وكل غريب للغريب نسيب

فلا تزجريني عنك خيفة كاشح إذا قال شرّاً أو أخيف لبيب

ژباړه: ای زموږ ګاونډۍ! موږ( زه او ته دواړه) دلته مسافر یو، او هر مسافر د بل په برخه وي. نو مه مې رټه او له ځانه مې د دښمن له وېرې مه لرې کوه، چې کله بده ویناوکړي او هوښیار انسان وګواښل شي.

د لیلا د کورنۍ زړه ورته تنګ شو، نو پاچا ته یې شکایت وکړ، هغه هم د مجنون وژل دوی ته روا کړل، خو هغه باک پرې را نه وړ، د لیلی کلي ته به راته او ویل به یې: مرګ راته تر دغه حالت ډېر اراموونکی دی. دلیلی کورنۍ له خپله ځایه کډه وکړه، او قیس د شپې راغی، د دوی کورونه یې تش ولیدل، نو خپله سینه یې د لیلی په کور ونښلوله او خاورې یې په سر بادولې او ویل یې (9)

أيا حرجات الحيّ حيث تحمّلوا بذي سلـم لاجادكنّ ربيع

وخيماتك اللاتي بمنعرج اللّوى بلين بلى لم تبلهــنّ ربوع

ژباړه: اې د کلي ګڼو ونو چې په( ذي سلم) نومې سیمه کې یې بار وکړ، پرتاسو دې پسرلی سخاوت نه کوي د (لوی) سیمې پر ګولایي دې ستا خیمې داسې زړې شي چې بله هیڅ مېنه داسې زړه شوې نه وي.

پر قیس هغه شېبه سخته تمامه شوه چې د لیلی له کورنۍ څخه یې لیلی وغوښته خو ور یې نه کړه، نو هغه هم سخته بې صبره او ناروغه شوه، کورنۍ یې حج ته بوتله په دې هیله چې ګوندې له خپلې ناجوړۍ څخه روغه شي. هملته د بني ثقيف قبیلې یو شتمن سړي ولیدله چې (ورد) نومېده، هغه ته یې ښایست ډېرخوند ورکړ، د هغې له پلاره یې دا وغوښته. په دې اړه قیس وایي (10)

أَلاَ إِنَّ لَيْـــلَى الْعَامِـــرِيَّةَ أَصْبَـحَتْ تَقَطَّعُ إِلاَّ مِنْ ثَقِيفٍ حِبَالُهَا

فَهُمْ حَبَسُوهَا مَحْبَسَ الْبُدْنِ وابْتَغَى بهَا المَالَ أَقْوَامٌ قَـلَّ مَالُـهَا

ژباړه: ای خبر شئ! د بني عامر د قبیلې لیلا داسې شوه چې د ثقیفو پرته له هرچا څخه یې اړیکې شلېږي. دوی هغه د حج د هدایاوو په څېر بندي کړه او هغه قومونو ته چې مال یې لږ دی په بدل کې مال وغوښت.

---

(8) الأغاني، الأصفهاني ج2 ص26.
(9) الأغاني، الأصفهاني ج2 ص26.
(10) همغه سرچینه ج2 ص26.

مجنون په دښتو او مېرو سر شو، پر کورنۍ یې دا چاره ډېره سخته تمامه شوه، د قوم ځینو هوښیارانو یې پلار ته مشوره ورکړه چې حج ته یې بوزې، کېدای شي له ستونزو خلاصی ومومي، همداسې یې وکړل، پلار یې مجنون ته وویل: د کعبې په پوښونو پورې ځان ونښلوه او له الله پاک څخه وغواړه چې د لیلی مینه دې له زړه وباسي خو هغه وویل: یا الله د لیلی سره زما مینه زیاته او عشق مې ورسره ډېر کړې او هیڅ کله یې یاد زما څخه مه هېروې.

قوم له مجنون څخه ناهیلی شو، او دی له هغوی څخه، او باور یې پوخ شو چې په خلکو کې هیڅ مرستندوی نه لري، نو دا یې غوره وبلله چې د خپل قوم په ګډون له ټولو خلکو څخه ډډه وکړي او چېرته لري صحرا ته لاړ شي، چې د خپلو غمونو لپاره د سا اخیستو په پار مناسب ځای ومومي او له خلکو ګوښه شي. د خلکو د غوبړونو او اورېدلو به یې لرې شعرونه جوړول؛ ځکه دغه غوبړونه او سترګې پر ده څارونکي وو.

مجنون به کله په بېدیا کې خپلې کورنۍ ته نژدې ځای اوسېده، په دغو بېدیاو کې یې له وحشي حیوانانو او مرغانو سره انس او الفت کاوه، هره ورځ به ده ته خواړه ور وړل کېدل، داسې ځای به ورته ایښودل کېدل چې ده به لیدل. چې کورنۍ به ورځخه لرې شوه، دی به ورته راغی و به یې خوړل. له داسې پېښو سره هغه وخت ډېر مخامخېده چې کله د توباد غر ته ولاړ، نو هغه ورځې به یې په یاد راتلې چې له خپلې محبوبې لیلی سره به یې پسونه څرول، نو بیا به سخت ځورېد او ډېر بې صبره به شو، په صحرا به سر و، خبر به نه و چې چېرته دی؟ ژوند یې په همدې ډول په بېدیا کې د سفر او اقامت ترمنځ ترتیب شوی و، د بدن او سر وېښتیان یې اوږده شول، نوکان یې غټ شول، هغه اوس وحشي حیوان ته تر انسانه ډېر نژدې و، نو ځکه یې له وحشي حیواناتو سره مینه کوله او له هغوی سره به یو ځای اوبو ته تلو.

اما هغه لیلی چې دی پرې مین و، د کلي په نجونو کې تر ټولو ښایسته، ځیرکه، او خوندوره وه. د بني مره قبیلې یو سړی یې ستایي: هغه د سپوږمۍ ټوټه وه، ما د هغې په شان څوک نه دی لیدلې. ځینو ښځو دلیلی په اړه له مجنونه پوښتنه وکړه چې په لیلی کې څه شی ډېر خوښ وو؟ نو ده وویل: د هغې هرڅه چې ما لیدلي، کتلي او اورېدلي هغوی خوند راکړی، قسم په الله چې د دې هر څه چې مې لیدلي هغه زما په سترګو کې ښایسته او راته په زړه پورې وو. ما ډېر کوښښ وکړ چې زما له نظره یې کوم څه بد شي، تر څو زه ځان ترې لرې کړم خو ومې نه لیدل، نو هغه ښځو ورته وویل: چې داسې ده نو صفت یې را ته وکړه، مجنون ویل [11]

بیضاء خالصة البیاض کأنها قمر توسط جنح لیـل مُبــرِد

وتری مدامعها ترقرق مقلةٍ سوداء ترغب عن سواد الإثمد

خودٌ إذا کثر الکلام تعوذت بحمی الحیاء وإن تکلم تقصد

(11) فرحات، یوسف، دیوان مجنون لیلی، طبع دار الکتاب العربي بیروت لبنان ص 14.

ژباړه: داسې تکه سپینه ده لکه سپوږمۍ چې د سړې شپې د تیارې په منځ کې وي، اوښکې یې ګورې په تورو سترګو کې داسې ځلیږي چې د اثمد رنجو تورولو ته هم اړتیا نه لري، نرمه نېک اخلاقه پېغله ده چې خبرې یې ډیرې شي د حیا په ساتنه پناه غواړي، او که خبرې هدفمني یې کوي.

دا د یوې پېغلې ښایسته انځور دی چې ډېر جالب صفات او ښه اخلاق یې را غونډ کړي، په واقعیت کې لیلی همدومره ښه صفات لرل او که یوازې د قیس تر سترګو داسې وه، ډیرو راویاتونو هغه ځیرکه او هوښیاره شاعره بللې. دا د لیلی د شخصیت ځینې هغه عامې نښې وي، چې قیس یې په شعرونو کې یادونه کړې وه، او همدا ډول افغان(پښتنو) شاعرانو هم په خپلو شعرونو کې د لیلی کیسې راوړې.

### د قیس شخصیت

دا چې قیس ته د مجنون لقب ورکړل شوی و، او په دغه لقب مشهور شوی و، په اصل کې مجنون بله معنا نه لرله، پرته له دې چې قیس په خپله عاطفه کې ډوب و او عاطفه یې د شخصیت پر نورو اړخونو غالبه شوې وه. او دا یوطبیعي کار دی د هر چا په اړه چې په فکر کې ډوب وې، هغه که هر ډول فکر وي.

قیس چې موږ یې لږ وړاندې حال بیان کړ هرومرو به داسې څه ترې ترسرېدل او لیونتوب په دې معنا د قیس په شعر کې راغلی لکه څنګه چې وایي[12]

ما بال قلبِكَ يا مجنونُ قد هَلَعَا          في حُبِّ مَن لا تَرَى في نَيلِهِ طَمَعَا

ژباړه: اې لېونیه! ستا په زړه څه شوي چې د هغه چا په مینه کې بې صبره دی چې لاس ته راوړلو هیڅ امید یې نشته.

اوطبیعي ده چې هرڅوك یې ویني په دغه صفت یې یاد کړي؛ ځکه چې عاطفه یې پر ټولو قوتونو غالبه شوې ده. نو مجنون له هر شي بېزاره دی، څه چې اوري یې یا یې ویني، ان تر دې چې څوك هغه ته خبرې کوي داسې ښکاري چې هغه ته یې غوږ نیولی دی، خو په حقیقت کې د هغه له خبرو بې پروا وي، او دا واقعیت یې له شعرونو څخه په ډاګه ښکاري، نو ځکه دخلکو لخوا ده ته د لېونی خطاب کېږي؛ د هغه څه په پار چې دوی ته ترسترګو کېږي[13]

يُسَمُّونَنِي المجنونَ حين يَرونَنِي          نَعَمْ بيَ مِـن ليلىَ الغـداةَ جُنُونُ
لَيَـاليَ يُزْهَى بِـي شَبَـابٌ وشِرَّةٌ          وإذا بِي مِنْ خَفْضِ المَعيشةِ لِينُ

---

(12) همغه سرچینه ص 82.
(13) الأغاني، الأصفهاني، ج2 ص35.

ژباړه: چې خلک مې ويني لېونى مي بولې، هو په سهار کې د ليلى په وجه زه لېونى يم، په شپوکې ځواني او د ځوانۍ حرص او فعاليت به ما کبر ته هڅوي او ناڅاپه مې د معيشت ټيټوالى نرموي.

د ليونتوب په معنا او مفهوم کې وروسته تأويل شوى دى. د دې تأويل په وجه د افسانې باب ته داخل شو، او منشأ يې دا وه چې صوفيانو د لېونتوب دغه صفت ته هغه معنا ورکړه چې مخکې مو تشريح کړه. لېونتوب په دغه صوفي معنا د الله پاک د حقيقي مينې او د دنيا په چارو کې د زهد لار ده ځکه وجد(سپېڅلې مينه) د الله تعالى د پېژندنې، او مينه کې يې د ډوبېدو لاره ده.

قيس دلته تاريخي شخصيت نه، بلکې صوفي شخصيت دى؛ په کوم ډول چې صوفيانو د نوموړي په اړه د رواياتو د تأويل له اړخه غوښتي او په هغوى کې يې پراختيا راوړې، ترڅومجنون له خپلو صفونو سره يوځاى کړي، او همدا اصل د دوى لخوا نوموړي ته د دې خبرې په نسبت چې ځارويو مينه ورسره کوله او له هغه سره به يې خوراک کاوه، او يوازې وو چې خواړه به يې خوړل، دا ځيني هغه صفات دي چې د قيس د صوفيتوب په هکله راغلي دي.

دا چې قيس له نورو جلا ژوند کولو، دې کار هم د ده پر ژوند صوفيانه رنګ ور اضافه کړى و. په واقعيت کې د مجنون په تاريخي رواياتو کې يوازيتوب په خپله عاطفه کې له ډوبېدو او له خلکو څخه د تنګېدو پرته بل څه نه وو. دى په دې کي د هر هغه چا په څېر دى چې دغه ډول په ځوانۍ کې عاشقانه عاطفه ولري. دا صوفيتوب دي چې د قيس رواياتو ته ورګډ شوى، او له تاريخي ډګره يې نقل کړى، تردې چې له هغه نه يو صوفي افسانوي شخص جوړ شو. د صوفيانو په مجلسونو، شعرونو اوکيسو کې د فلسفې صوفيانه نظرياتو لپاره وړ او مناسب قالب وګرځېد.

**پښتو ادب کې د ليلى او مجنون کيسه**

دلته د هغه شاعرانو په متونو لنډ بحث کيږي چې د ليلى اومجنون کيسه يې په خپلو شعرونو کې ياده کړې وي.

زما بحث پر هغو لويو پښتنو شاعرانو او ليکوالو راڅرخي چې ليلى او مجنون يې د خپلو ادبي اعمالو لپاره مستقله موضوع ګرځولې ده، او هغه ليکوال او شاعران پرېږدم چې د خپلو ليکنو په ترڅ کي يې موضوع ته په څو بيتونو کې اشاره کړې وي؛ ځکه هغوى ډېر دي، شمېر او حساب يې نه کېږي، بلکې زما هدف په دواړو ادبياتو کې د موضوع څېړل او د هغې پرمختګ بيانول دي.

**د سکندر خان خټک لیلی او مجنون**

نوم‌یې سکندرخان د خوشال خان خټك زوی دی، دغه شاعر د (1068) لمریزکال شاوخوا داکوړه خټك په ښار کې زیږېدلی دی.

د سکندرخان خټك د لیلا او مجنون کیسه لومړنۍ کیسه ده چې په پښتو ادب کې لیکل شوې ده. په (1358) لمریزکال د محمد شیرین سنګري په اهتمام، څېړنپوه دوست شینواري تصحیح اوسریزه یې پرې وکښله. سکندرخان د شعرونو دیوان هم لري، په (1952) زیږدیزکال په پېښور کې دوست محمد کامل تحقیق او تصحیح کړی.

د لیلی اومجنون کیسه یې له بلې ژبې نده ژباړلې، خپله شاعر دخپلې کیسې په سریزه کې د دې خبرې پخلی کړی، وایي[14]

| | |
|---|---|
| د مجنون او د لیلی احـــوال مې ووې | دا زړې خبـــرې واړه کـــړې ما نوې |
| ما یو تار باریك د نظم ورنه ساز کړ | لاس د فکر مې په وار ورته دراز کړ |
| په محنت کړې ما له هره ځایه ټـولې | ترې مې واخستې ابدارې ګولې ګولې |

داسې برېښي چې شاعر پر هغو ولسي روایاتو تکیه کړې چې په هغه وخت کې د خلکو په منځ کې خپاره شوي وو، نو شاعر راواخستل، ترتیب یې کړل، د مثنوي په چوکاټ کې وپیل اولوستونکو ته یې په نوي قالب کې وړاندې کړل، کیسه یې په بېلابېلو ټوټو کې نظم کړې او د هرې ټوټې لپاره یې نوی سرلیك ایښی دی. زموږ څېړنه دلته د سکندرخان خټك د کیسې پر شاوخوا راڅرخي؛ ځکه چې هغه په شکلي لحاظ تر نورو بشپړه ده او د بیتونو شمېر یې ( 2084) ته رسېږي.

شاعر خپله کیسه د الله تعالی په حمد پیل کړې، بیا یې د الله تعالی مناجات راوړی، ورپسې یې د پېغمبر صلی الله علیه وسلم ستاینه کړې ده. شعري ټوټې یې راوړي دي په هغو کې خپل زوی ته وعظ او نصیحت کوي. بیا یې د هغه څه د تأیید لپاره دواړه حکایتونه راوړي چې خپل زوی ته یې ویلي. ورپسې یې ځینې شعري ټوټې ذکر کړې چې د کیسې سره تړاو نه لري.

شاعر د لیلی اومجنون د کیسې پیل په لاندې ډول کوي[15]

(14) خټك، سکندر خان(1358 هـ ش)، لیلی اومجنون ص 18 چاپ د افغانستان د علومو اکاډمي.
(15) خټك، سکندر خان(1358 هـ ش) لیلی اومجنون ص 18.

گوینده چې د ماضي حکایت کاندي        په قصه کې ګوره څه روایت کاندي

چې په ملک کې د عرب خجسته نوم و        دی په عقل په دانش هرګوره سلوم و

هم بهتر په قبیله کې د عرب و        هم مهتر په قبیله کې د عرب و

بیا هم ښه قوي نسب قوي تبار و        پښت په پښت اعلی حسب اعلی وقار و

بې حسابه یې دولت و شمار یې نه و        چې یې نه کېده پسر په کار یې نه و

د کیسې نقلوونکی چې کله له تېرې زمانې حکایت کوي، ګوره چې څه ډول دا قصه رانقلوي. بیا شاعر په کورنۍ کې د هلک د شتون د ارزښت په اړه غږېږي او پر دې یې ټینګار کړی چې د هرې کورنۍ اوقبیلې اساس صالح اولاد بږدي، نه ناکاره اولادونه. بیا الله تعالی د پلار دعا قبوله کړه چې زارۍ ورته وکړې، نو داسې زوی یې ورکړ چې په ښایست کې تر سپوږمۍ ښکلی وو، شاعر وایي [16] لکه ګل

هسې له پوسته را بېرون شو        له هوسه پرې ګردان اسمان ګردون شو

بیا د کلي محلت ښځې هوښیارې        په ساتنه د هلک شوې غمګسارې

چې ښکاره هغه زمان وچاته زوی شو        زېری دا دی چې پیدا افتاب روی شو

په دریمه ورځ یې جوړه په هلک کړه        هم د قیس نامه په غوره یو ملک کړه

چې هلک موصوف په اسم د خپل نام شو        طلب کړونی په خپل مراد او په خپل کام شو

## د لیلی په بېلتون کې د مجنون حال [17]

خوار مجنون چې لېونی د محبت و        لېونتوب یې و عالم ته هدایت و

لېونی ورته مه وایه زما وروره        چا چې ووې هغه وسونه بې اوره

دی سالک د عشق په لاره کې کامل و        پرې ګمان د لېونتوب مه کړه، عاقل و

چې په زړه کې یې د عشق د لمبو تاو و        په دا جوش یې څکه تل د شونډو کف و

دی سرخیل و د همه و غمناکانو        سرحلقه و د همه سینه چاکانو

یعنې خوار مجنون د لیلی په عشق کې لېونی شوی وو.

(16) همغه سرچینه ص 45
(17) همغه سرچینه ص 85.

**د مجنون پېغام ته د لیلی ځواب**(18)

چې لیلی ته شو ښکاره د خــــط مضمون　　په خون خون به یې ژړل دې په چون چون
لکه خط له ډېـــره قهره پیچ وتاب شوه　　ومجنون وته د خط په دا ځـــــواب شوه
ستا د زړه احوال په خط کې را ښکاره شو　　په ژړا مې خاطـــــر درست پاره پاره شو
ستا د خط خبري واړه دي بې خــــونده　　رحم نه کړې په ما ولې خــــود پسنده
هغه دُر لا هیڅ ســـــړي نه دی پېــــلی　　هغه شهد لا کوم مگس نه دی لیـــــدلی

مجنون ته د پېغام په ځواب کې د لیلی ځواب ورسېد، هغه پرخپلو ټپونو مرهم (درمل) وباله، پېغام لیک یې کلك مچ کړ، او بیا یې د خپلې لونگۍ په شمله پورې وتاړه، او دغه پېغام یې د خپلې ناروغۍ لپاره درمل وباله او ترڅه بریده پرې قانع شو.

**د لیلی مړینه** (19)

هغه گل چې نندارہ د درست جهان و　　ارایــــــش د درســــــن د گلـــــــــستان و
ښایسته چې د بهار تـــر گـــلو لا وه　　بل څوك نه و په جهان کې خو لیلی وه
یوه شپه پر زمکه پروته وه بې کـــته　　اوښتــــه د یار لــــه غـــم سره لـــټ پته
درستــه شپه یې فریاد کړ د زړه له سره　　دواړه سترگې یې کښې نه ښوی ترسحره
په صــورت کې یې گرمي شوه غالبه　　ویښه نه وه لا په خـــــوب کې شوه په تبه

لیلی په خپل کور کې پاتې شوه او د ناجوړۍ له کبله پرېوته، د ناجوړۍ خبر یې د هر چا په خوله شو له یوې ژبې بلې ته نقل شو، د وېښته په څېر نرۍ او خواره شوه، په پای کې یې خپلې مور ته وصیت وکړ چې مجنون ته دا خبره ورسوي چې دې یې په مینه کې ژوند له لاسه ورکړ او آخرت ته تر ده مخکې شوه، هلته ورته انتظار ده او ورته وولیه ته به هم په دې پسې ورځې.

**د لیلی له مرگه د مجنون خبرېدل**(20)

چې مجنون واورېدې دا رنگه خبرې　　سپېرې خاورې یې په سر لوستې هم سرې
مرگه راشه ومـــا ته نـــن دې وار دی　　بې لیلی زمـــا ژوندون کــــله په کار دی

---

(18) همغه سرچینه ص 105.
(19) ختك، سکندر خان(1358 هـ ش) لیلی اومجنون ص 136.
(20) همغه سرچینه ص 142.

چې د چـــا ښکلې اشنا په دنیـــا نه وي د هغه سړي مردن تر ژونـــــدون ښه وي
د لیـــــلی په نوم یې وکښل یو څوآهه په دا یاد یې له خــــولې وخـــــاته ساهه
ومنزل ته د اشنا خوش او خـــــرم لاړ د لیلی لیلی په نــــوم د مجنــــون دم لاړ

دا په پښتو ادب کې د لیلی او مجنون د کیسې لنډیز و، موږ یې دلته د کیسې له پیل څخه ځینې موارد را واخیستل او په ځینو وروستنیو مواردو مو بسنه کړه.

**پایلې**

ولیدل شول چې عذري (پاکه) مینه څه ډول رامنځ ته شوې، مېین دخپلې عقیدې د پیروی په پار د خپل خواهش پر ضد جنګیږي، له جسمي ګټې څخه تېرېږي او دخپلې عاطفې په وجه لوړېږي، قیس بن الملوح یا د بني عامر قبیلې مجنون یو له دغو سپېڅلو مېینانو څخه وو.

د قیس بن الملوح موضوع په پښتو ادب کي صوفیانه رنګ اخیستی، قیس د صوفیانو پر طرز پر لیلی مېین شوی و زړه او ایمان یې د پاکې مینې دوې ستنې وې. په عربو کې د مینې شاعرانو په خپلو شعرونو کې د ریښتینې عاطفې څرګندونه کړې، چې په خپلو احساساتو ډک زړه په کې تشوي. همداسې د صوفیانه مینې لپاره هم زړه او ایمان دوې ستنې دي ځکه خو ټولو متصوفه و دې لوري ته بلنه ورکړې چې د زړه له لارې الله پاک ته ورنږدې شي.

سربېره پردې قیس بن الملوح خپله ژبه او وطن هم بدل کړي، کله چې له عربي ادب څخه پښتو ادب ته نقل شوی نوهیښوونکې خبره نه ده چې له دې وروسته مجنون دخپل چاپېریال ځینې نښې اوخپل ډېر نظرونه او ذاتي ځانګړني هم تغییر کړي. د ده ښکاره ځانګړنه په پښتو ادب کې دا وه چې په خپله عقیده، سلوک، ژوند او مینه کې د تصوف رنګ غالب شي. د قیس د صوفیانه مینې بل پړاو دا و چې د پاکې مینې له پړاوه تېر شو. هغه خپله مینه له لیلی سره په انساني پاکلمنۍ پیل کړه، خو په مینه کې بې برخیتوب دی داسې ډول جوړ کړ چې د خپلې عاطفې په قوت یې ځان لوړاوه، او دغه لوړوالي د فکر کولو نوي ورونه پرانیستل. د مجنون روایاتو ته د دغه صوفیانه رنګ ورکولو فضیلت شاعر سکندرخان خټک ته ورګرځي.

د همدې صوفیانه میلان د اغېزې پایله وه چې د سکندرخان په کیسه کې لیلی همداسې پېغله پاتې شوې، دا له قیس سره د مینې په پار نه، بلکې هغه باورمنده وه چې واده داسې یو کار دی چې هغې لپاره نه ده پیدا شوې، دا نظریه د ځینو صوفیانو د نظریاتو انعکاس و چې مجرد ژوند تر واده غوره بولي.

**موندنې**

1. دا مو وموندل چې په پښتو ادب کې د مجنون لیلی کیسه د «لیلی او مجنون» د کیسې نوم خپل کړی دی اوپه پښتو ادبیاتو کي د مجنون کلمه توپیر لري له هغه مجنون سره چې په عربي ادب کې دی. عربو د مجنون کلمه قیس ته هغه وخت وکاروله چي له ده څخه يې ځيني داسې تصرفات ولیدل چې د عقلمنو له دایرې څخه يې باسي. په داسي حال کې چې افغانانو له دې څخه یوه لوړه معنی اخستې ده چي په تصوف کي یوه درجه ده، د هغې مطلب دعقل او قواعدو له واکمنۍ څخه وتل او د زړه واکمنۍ ته ننوتل دی.
2. په عربي کیسه کې شخصیتونه: قیس، لیلی، د قیس پلار، د لیلی پلار، سلطان ، ورد، ورقه بن مساحق، عمر بن عبد الرحمن بن عوف او قیس بن ذریح د قیس دوست. خو په افغاني قصه کې شخصیتونه: قیس، لیلی د قیس پلار، د لیلی پلار، سلیم عامري، ابن سلام د قیس دوست، شاهزاده نوفل، د قیس مور، د لیلی مور او یو شمېر نور واړه شخصیتونه.
3. د دغې کیسې موخه په عربي ادبیاتو کي د عذري پاکلمنۍ، سپېڅلې مینې د ارزښت څرګندول او څه ډول د دواړو عاشقانو په زړونو کې ځای نیول و. خو په پښتو ادبیاتو کي دغه مینه له سپېڅلې مینې څخه صوفیانه مینې ته اوښتې ده، فلسفه او جوړښت یې د صوفیانو له نظر سره سم ترسره شوی دی.
4. پیښې: شاعر سکندرخان ختټک نوې پېښې زیاتې کړې چي په عربي کیسه کې نه وې، چې په لاندې ډول دي:

1. قیس یې داسې یاد کړی چې د یو لوی پاچا زوی وو، اولاد یې نه درلود، نو الله پاک ته به یې زارۍ کولې چې دتخت او وطن یو وارث ورکړي، تر دې چې الله تعالی یې ارمان پوره کړ او د قیس پېرزوینه یې پرې وکړه.
2. په همدې ډول افغاني لیکوالو د لیلی او مجنون ترمنځ د ملاقات ځای ښوونځۍ ګرځولی دی، په داسې حال کې چې په عربي کیسه کې د ملاقات ځمکه په بېدیا کې د رمې څرځای وو، لکه څنګه چې د لیلی د پلار لخوا د مجنون ردولو لامل د هغه لېونتوب یاد شوی، په داسې حال کې چې عربي عبارت ښیي چې مجنون د لیلی دښایست یادونه په شعر کې کړې وه، او د عربو په عرف کې د ښځې ښایست په شعر کې یاد کړي، واده یې له هغه چا سره نه شي کیدای.
3. د جنګ اوجګړې خبره چې د نوفل او د لیلی د کورنۍ ترمنځ شوې، د لیلی د پلار اسیرېدل په عربي کیسه کي هیڅ نشته او همدارنګه د لیلی بندي کېدل.
4. په پښتو کیسه کې د لیلی لخوا د یاد سړی د خاوند په حیث ردېدل، خو په عربي متن کې داسې بریښي چې عادي واده ترسره شوی دی.

5. د پاچا لخوا د مجنون سره پر ملاقات ټینګار او هغه څه چې د پاچا د استازي سره ترسره شوي او بیا یې حاضرول.
6. افغاني روایاتو کې راغلي چې لیلی د ابن سلام سره واده کړی په داسې حال کې چې عربي روایات د هغه نوم(ورد) یادوي.

1. پای: د عربی د لیلی او مجنون کیسې او د پښتو د لیلی او مجنون کیسې په پای کې یو له بل سره تقریبا ورته والی شته، د دواړو کیسو پای صوفیانه دی؛ ځکه قیس د لیلی له مینې د الله پاک سره مینې او عشق ته اوړي.
2. په پښتو ادبیاتو کې د لیلی او مجنون د کیسې صوفیانه اړخونه: په پښتو ادبیاتو کې اساسي موخه چې قصه یې پرشاوخوا راڅرخي په اصل کې له عذري مینې څخه صوفیانه عشق ته اوړي؛ قیس د لیلی سره په دې پار مینه نه ده کړې چې واده ورسره وکړي، بلکې خپله د مینې په پار یې مینه ورسره کوله؛ ځکه چې لیلی د هر ډول مینې وړ وه.

**سرچينې**


- أبو علي، القالي. (1926 م). شذور الأمالي والنوادر، طبع دار الكتب المصرية القاهرة.
- أبو الفرج، الأصفهاني. (1967 م). الأغاني، طبع دار الكتب المصرية القاهرة.
- الأنطاقي، داود. (1302هـ). تزيين الأسواق في أخبار العشاق، طبع دارالكتب المصرية القاهرة.
- ختك، سکندرخان. (1358 هـ ش). ليلى او مجنون، چاپ د أفغانستان د علومو اکاډمي.
- فرحات، يوسف. (1999 م). ديوان ليلى مجنون، طبع دار الكتاب العربي بيروت لبنان.